مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نویسنده: ن . جلیل زاد ۲۰۲۵/۰۹/۱۷

# مقصر څوک دی؟

انسان تل د خپل برخلیک د جوړولو تر ټولو ستر مسوول پاتې شوی دی .مقصر څوک دی ؟
انسان تل د خپل برخلیک د جوړولو تر ټولو ستر مسوول پاتې شوی دی.

موږ ډېر ځله هڅه کړې چې خپل دردونه د پردیو په اوږو واچوو، د پردیو په تور یې رنګ کړو او ځان ته د بې‌ګناهی جامې ورواغوندو. خو تاریخ موږ ته غږ کوي :
« ای انسانه! تر ټولو لوی دښمن ستا له دننه راټوکېږي، او تر ټولو ژوري زنځیرونه ستا د فکر په تورو کړیو کې تړل شوي دي.»
موږ افغانان د پېړیو په اوږدو کې د پردیو د سیورو لاندې ځوریدلي یو، خو د خپلو فکري او فرهنګي کمزوری پر وړاندې مو سترګې پټې کړې دي .همدغه سترګې پټول موږ تل په هغه کوڅه کې ساتلي یو چې منزل یکې نه ښکاري.
دا لیکنه د یوې ویرجنې، خو بیداره چیغې په څېر ده .
دا پوښتنه راپورته کوي، ولې لوېدیځ د روښانتیا لمر ته ورسېد، خو موږ لا د تیارو په غېږ کې د خرافاتو قرباني یو؟
ولې هغوی د فکر پر بال پیاوړي شول او موږ د تعصب په ځنځیرونو کې اسیر پاتې شو؟
دا یوه لیکنه نه ده، بلکې یوه هنداره ده . یوه هنداره چې که ربښتینې سترګې ورته پورته کړو، زموږ د ځان رنګ، زموږ د ځان توروالی، زموږ د ځان قاتل توب به یکې ووینو. راځئ، د دې هنداري مخې ته ودرېږو...

یو ستن پر خپل ځان، یو جوال دوز پر بلانو
شاعر وایي:
قوي شه که د نړی په ژوند کې آرام غواړې،
ځکه چې په نظامِ طبیعت کې کمزوری تل تر پښو لاندې کېږي.
په هغو هیوادونو کې چې زموږ هیواد ورته ورته دی، او له هغو هیوادونو څخه یو هم افغانستان دی، موږ افغانان تل دا عادت لرو چې د خپلو ګناهونو او ناپوهیو بار د نورو پر اوږو وراچوو ، «وای خدایه! دا کار د انګریز، امریکا، پاکستان او ایران دی...»
دا خبره شکه نه لري چې انګریز، امریکا، پاکستان او ایران زموږ پر هیواد او د سیمې او نړی پر خلکو لوی جنایتونه کړي او د ډېرو خلکو د بدبختۍ لامل شوي دي . خو باید په یوه بدی بله بدی ونه پټو او نه باید بل څوک تبرئه کړو.
په افغانستان کې یوه متل ده :
« یو جوال دوز پر خپل ځان، یو کارد پر بل»، یعني «یو ستن پر خپل ځان، یو جوال دوز پر نورو».

شاعر وایي:
قوي شه که د نړی په ژوند کې آرام غواړې،
ځکه چې په نظام طبیعت کې کمزوری پامالېږي.

موږ تل د امریکا او انګریز په محکومولو کې خبرې کوو . ښایي په ډېرو ځایونو کې دا خبره ربښتیا هم وي، خو هېڅکله زموږ د ذهني او فرهنګي شاتګ دلیل نه شي کېدای او نه به مو د ژوند په محکمه کې بې‌ګناه کړي. دوی یو اړخ دی،یو د سکې مخ دی .
بل اړخ موږ خپله یو .
تر څو چې آس وي، سپاره به هم وي، او سپاره ډېر دي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

موږ باید آس نه شو، موږ باید کمزوري نه شو، موږ باید بېوسه نه شو . خامخا چې کبان یې بېبرکه خوري، آهوان یې پړانګان خوري .
دا نړۍ د «بقا دپاره د مبارزې» پر بنسټ ولاړه ده . که کمزوری یې، نور به دې وخوري.
نو ای هموطنه چې د دې ژورې پسماندې بحرانه د وتلو فکر لرې، پوه شه چې د قضیې یو اړخ موږ خپله یو، بلکې تر ټولو مهم اړخ موږ خپله یو.
د مني چینجی د منې له تنه او د ونې له تنه وي .
تر څو چې موږ پر ځان واکمن نه شو، خپل دوست او دښمن او خپله ګټه او تاوان و نه پېژنو او د خپل ذهني او فرهنګي شاتګ اصلي لامل ونه درک کړو، زموږ حال به همدا وي. راځه یو ډېر ساده خو باریکه پوښتنه وکړو:
ولې اروپا او د اروپایانو فرهنګ دومره پرمختګ وکړ او موږ یې ونه کړ؟ ولې هغوی تر موږ قوي شول؟
ولې؟
ولې؟
ایا کله مو دا له ځانه پوښتلي؟
او تر ټولو مهمه، له ځانه مو پوښتلي چې د قوي کېدو لار څه ده؟
نور څنګه قوي شول؟
ایا د ۱۶مې پېړۍ نه تر اوسه د اروپایانو بحثونه تعقیب کړي دي؟ فلسفي بحثونه، د روڼ اندو هڅې او د اروپایانو فلسفي اندونو ځواک په پرتله زموږ د آسیا له خلکو سره کله پرتله کړي؟
هیواوالو ، ولې؟
څه وشول؟
ایا زموږ په اسلامي نړۍ کې مو کله داسې څوک لیدلي چې د ولټر غوندې وي؟ د ژان ژاک روسو، دیدرو، مونتسکیو او کانټ په څېر څوک مو لیدلي دي؟ هغه کسان چې د فرهنګي، روزنیزو، ادبي او تر ټولو مهم د اند د څرنګوالي په اړه څه ولیکي؟
ایا موږ د محمد غزالي له «کیمیا سعادت» وروسته کوم بل کتاب د فرهنګ او مدنیت په اړه لیکلی دی؟ که څه هم غزالي د فلسفې په تکفیر او د ملایانو په دیني پلو ټرلو سره د فکر لارې وتړلې، خو بیا هم هغه لږ څه چې په «کیمیا سعادت» کې یې ویلي وو، موږ له منځه یوړل او په یوه ګوښه کې مو وغورځول. یو څه ځان ته راشو ، ولې لوېدیځ په تېرو ۴۰۰ کلونو کې، له ۱۶مې ، ۱۷مې – ۱۸مې پېړۍ وروسته، وده وکړه؟
ولې؟
ولې؟
دا زما لپاره یوه ډېره مهمه پوښتنه ده، نه یوهېږم ستاسې لپاره هم ده که نه. هغه څه چې د اروپا د روښانتیا عصر یې راوست، دا وه چې متفکرانو دې پایلې ته ورسېدل، د آسماني کتابونو آیتونه ښایي د اسمانونو او د انسان د مرګ وروسته ژوند لپاره ښه وي، خو موږ باید د انسانانو لپاره ځمکني قوانین جوړ کړو.
په پای کې، د ډېر فکري مېړاني او قربانیو وروسته، چې سلګونه د دود پر خلاف مبارزین یې زندانونو، تبعید او مرګ ته ولېږل، له دې فکري انقلاب او د فرانسې له سیاسي انقلاب نه «جمهوري فرانسه» وزېږېده.
هغوی وویل کلیسا دې پر خپل ځای وي، خو ځمکني قوانین دې پر خپل ځای .
آسماني قوانین ښایي د فرښتو او د اخروي ژوند لپاره ښه وي، خو د انساني ټولنو او ځمکني اړیکو لپاره نه.
له دې وړاندې یوه ستره نهضت شوې وه، که څه هم د پوهانو او روڼ اندو مقتلونه او زندانونه ډک شوي وو، خو هغوی له غورځنګ او انده لاس نه اخیسته او د تفکر نړۍ یې پر شور بلله.
پوښتنه کېده، ځمکه څرخي که نه؟
ځانونه ورک شول، جوردانو برونو یې په اور کې وسوځاوه، نږدې وو چې د ګالیله ژبه یې پرې کړه.
روڼ اندو حاضر شول ځانونه په اور کې وسوځوي خو د متحجر دیني افکارو تسلیم نه شول.
اسپینوزا خپل مور او پلار له میراثه محروم کړ.
د امسټردام یهودي خاخامانو پرې ستر «لعنتنامه» ولیکه:
»لعنت دې وي پر اسپینوزا، لعنت دې وي پر هغه د خوب پر مهال، د ویښېدو پر مهال، د قدم وهلو پر مهال. د اسپینوزا کتابونه چېرې چې ومومئ، په اور کې یې وسوځوئ.«...
که څه هم اسپینوزا خدایپېژندونکی هم و، خو ګناه یې څه وه؟ یوازې دا چې فکر یې کاوه، خو د نورو په څېر نه.
هغه د لعنت نامه ومنله خو له خپلې عقیدې نه پر شا نه شو .
ویې ویل: موسی او عیسی هېڅکله پر ځمکه نه دي اوسېدلي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که غواړئ ووژنئ، ووژنئ. داسي ځیزونه نه دي شوي .
تاریخ ولولئ: یونان، مصر، روم، هند... داسي کسان نه شته.
وروسته فروید په شلمه پېړۍ کي په ښکاره وویل: داسي ځیزونه شتون نه لري .
مه پرېږدئ خلک په دغو خالي افسانو کي سرګردان پاتي شي.
موږ، ۴۰۰ کاله وروسته له روښانتیا ، روښنګرۍ عصر نه، لا هم په داسي حال کي یو چي یا جهادي ـ طالباني واک غواړو جوړ کړو، او یا که مخالف یي یو، هماغه زاړه افکار په سر ګرځوو .
تر دې بدتر دا چي د تاریخ له کثافاتو نه ځان ته اتلان جوړوو.
۴۰۰ کاله وروسته له روښانتیا، چي د هغي زماني متفکران د انسان په ټولنیز ماهیت فکر کاوه، موږ بیا د دین تر قید او نورو شاتګونو وروسته د شاته پاتي کېدو تر ټولو بد ډول ته، یعني قومپالني ته تسلیمېږو.
په داسي حال کي چي قومیت یوازې د طبیعت یوه تصادفي پایله ده، انسان پرې واک نه لري او نه یي په ټاکنه کي برخه لري .
د فکر راټیټول تر دې کچي، د طبیعت جبر ته تسلیمېدل، له ټولو بدو سقوطونو یو دی.
۴۰۰ کاله وروسته، لا هم په د کابل کوڅو کي ښځي په کورونو کي بندي دي، فرخنده یي په اور کي وسوځوله .
فرخنده سره څه وشول؟
ووهل شوه، تر موټر لاندي کړه شوه، او وروسته وسوځول شوه.
کله؟
همدا پرون... لا د شاه‌دوشمشیره پر سړک یي وینه نه ده وچه شوې.
خو له سبا چي یو فاسد ملا، ملا نیازی، د فرخندې وژنه حلاله وګڼله، خلک رمه رمه د هغه تر شا په لمونځ ودرېدل .
یو یي هم له ځانه و نه پوښتل چي که داسي قانون نشته چي دا فاسد ملا عدالت ته کش کړي، لږ تر لږه زه کولای شم په بل مسجد کي لمونځ وکړم، دا ننګ و نه منم.
نه پوښتي، ځکه فکر کول نه زده کوي.
ښه، اوس وواياست، دا د امریکا ګناه ده؟
د انګریز ګناه ده؟
هو، امریکا او انګریز زموږ د ذلت او غلامۍ لوی رول لري، خو موږ خپله څه؟
ایا موږ بې‌ګناه یو چي په خپله شاتګۍ دښمن ته دا موقع ورکوو چي هر څه وکړي، بې له کوم خنده؟
ای هموطنه، له کانت نه ډېر وخت وروسته، له ۴۰۰ کلونو وروسته چي شعار ورکړل شو: «دین دې د سینه، کور او عبادت ځای پوري محدود وي، درناوی دې وشي، خو ټولني ته دې رانه‌نوزي نه«.
موږ باید پوه شو چي د روښانتیا نهضت، او د هغي مېوه چي وده، ترقي او پرمختګ و، د دین له سیاسي واک نه د بېلتون په پایله کي پیل شو .
تر هغه چي لوېدیځ سکولار حاکمیتونه جوړ نه کړل، نه د پرمختګ دروازې پرانیستل شوې، نه مدرنیزم، نه مدرنیته.
په بشري ټولنو کي ټول قوانین د نسبي توب پر بنسټ خوځېږي.
ناممکنه ده چي ته دموکراسي ومني، خو بیا هم وواېي: «ذلک الکتاب لا ریب فیه هدی للمتقین.» (په هغه څه کي چي ما ویلي شک مه کوئ).
علم، فلسفه او اند له شک کولو وزېږېدلي .
که انسان په زرګونو کلونو کي شک نه وای کړی او دغه شک یي علم، فلسفه او اند ته نه وای لوړ کړی، نن به لا هم د تاریخ نه وړاندې په غارونو کي سرګردان وو.
تر څو چي شک و نه رامنځته شي، ته سم ځای ته نه رسېږې .
خو دلته شک کول منع دي.
ته په داسي ټولنه کي ژوند کوې چي که وواېي: «زه د دې کتاب په حکمونو شک لرم» ـ محکوم به شې .
ولې؟
ځکه نسل پر نسل مو ځانونه د نه‌فکر کولو او نه‌شک کولو عادت کړي.
باید دا یخ مات شي .
باید زده کړو چي پر مطلقیاتو کرښه راکش کړو .
ځکه په هغه ټولنه کي چي د «ډېکارتي» شک کول، یا اسلوبي شک، منع وي، هغه ټولنه به د هر څه او هر چا په خدمت کي وي، پرته له دې چي د پرمختګ، ازادۍ او انساني وارستګۍ په خدمت کي وي.
اوس وواياست: دا د امریکا ګناه ده؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د فرانسي او انګرېز ګناه ده؟

موږ د داسي روحانيونو اړتيا لرو چي ابن رشد، کانت او اسپينوزا يي لوستي وي.
موږ د داسي جوماتونو اړتيا لرو چي په هغو کي نه يوازي ښځي د نارينه‌وو ترڅنګ کښېني، بلکي وعظ هم وکړي.
موږ د زياتي مېراني او روښانه کلام اړتيا لرو.
که ما وس درلود، هره ورځ به مي د جومات له منارو پنځه ځله د روښانتيا د مفکرانو کلام اعلان کړای.
موږ بايد ډېره مېرانه ولرو او خپله عقل په کار واچوو.
نن اسلام څه ګټور شی شاته پري ايښی؟
د اسلامي نړۍ خدمتونه په دقيقو علومو، هنر او معماري کي څه دي؟
دا پوښتني يا بې ځوابه پاتي کېږي يا ډېره کمه ځواب لري.
هغه څه چي له اسلامي فکري تاريخه پاتي دي، يوازي يوه تنده او انعطاف نه منونکي بنسټپالنه ده، چي نور په دي نړۍ کي د دوام وس نه لري.

لا تر اوسه مي منزل په ګوته نشو،
خبر نه يو چي په کومه لار روان يو.
د پرديو نه ګيله هسي کړو شاعره،
موږ د خپل ولس په خپله قاتلان يو.

**آرشيف: مطالب نشر شدهٔ ن. جليل زاد**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ